د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی وزارت
د مقام د دفتر رياست
د اطلاعات عامه عمومی مدیریت

==========================================================================

## خبرپاڼه

نېټه: 1391/9/12

**موضوع: د نوری فایبر د پروژو قرار داد – تمویلونکی: نړیوال بانک**

له شکه پرته چې اړيکې او ټکنالوجي د بشر په ورځني ژوندانه کې ارزښت لری او د ژوند په بیلا بیلو اړخونو کی يې خورا ډیرې اسانتیاوې را منځ ته کړيدي. له همدې امله کولای شو چې ووايو نن ورځ نړی د اړيکو او ټکنالوجی د پرمختګ له کبله د یوه کوچني کلي حیثیت غوره کړیدی. له نیکه مرغه افغانستان هم د ياد کلي د يو جز په توګه تل هڅه کړيده چې نوي ټکنالوجي د هیواد ګوډګوډ ته وغځوي.
په وروستی لسیزه کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی وزارت د پرمختګ او ترقی په لور د نوی ټکنالوجی څخه په ګټه اخیستنی سره د خپلو منظمو پروګرامونو له لارې د پام وړ خدمتونه سرته رسولي دي. د مخابراتو وزارت د خپلو هڅو په پایله کې د ملی او نړیوالې پانګه اچونې لپاره ښې لارې چارې برابرې کړيدي. او د پرمختګ په لوريي د نړیوالې ټولنې بیلابیلې مرستې هم ترلاسه کړي. څرنګه چې ټولوهیوادوالو ته جوته ده د مخابراتو په سکتور کې 1.8 ملیارد ډالر پانګه اچونه شویده او 85 سلنه هیوادوال د تلیفون او نوری فایبر انترنیتي خدمتونو په وسیله سره تړل شوي دي.

د مخابراتو وزارت د پراختيايي پروګرامونو له لړی سره سم دا دی نن د يکشنبې ورځ د 1391 کال د لیندی د میاشتې په 12 نیټه د بامیان، دایکندی، تخار، بدخشان، غور ولایتونو مرکزونه او د يادو ولايتونو 13 ولسوالی د نوری فایبر پروژو قرارداد د ټیکنکو شرکتونو سره په درې لاندې کڅوړو کې لاسلیک کوي:
**لمړی کڅوړه:** د SDH د سیستم، ډيزلی جنراتورونو، ACS ، د نقلیې وسایل او د اړتیا نور توکې د نوری فایبر پر بنسټ د Backbone Connectivity د پراختیا د مرکزی او شمال – ختیځو ولایتونو د نښلولو په منظور د داوطلبی د قانونی بهیر وروسته د دغې پروژې قرار داد د ZTE چینایی شرکت ته د (5’026’270.27 ملیون امریکایی ډالره) په ارزښت، چې د شرایطو وړ ټیټي بیې وړاندې کوي ورکول کیږي.

**دویمه کڅوړه:** دبامیان، دایکندی، غور او 10 ولسوالیو(شینواری، سیاهګرد، شیخعلی، شیبر، یکاولنګ، پنجاب، لعل و سرجنګل، دولتیار، وارس، شهرستان) د نښلولوپه موخه د نوری فایبر د کیبلونو، د OSP پایپونو/ سیمه ایزو خدمتونو تیارول، درول او په لاره اچول. د داوطلبی د قانونی بهیر وروسته د دغې پروژې قرار داد په (JV) ګډ هندی استر خصوصی کمپنی په ګډون د (Gulf Homebase International Construction Company) چې يو افغانی کمپنی ده د (13’722’971.88 میلیون امریکایی ډالره) په ارزښت، چې د شرایطو وړ ټیټي بیې وړاندې کوي ورکول کیږي.

**دریمه کڅوړه:** د تخار،بدخشان او دريو ولسوالیو (خان آباد،کلفګان او کشم) د نښلولوپه موخه د نوری فایبر د کیبلونو، د OSP پایپونو/ سیمه ایزو خدمتونو تیارول، درول او په لاره اچول. د داوطلبی د قانونی بهیر وروسته د دغې پروژې قرار داد د رستم حیدری شرکت ته چې په لنډه بڼه RHCC نومیږي، د (4’605’633.76 میلیون امریکایی ډالره) په ارزښت، چې د شرایطو وړ ټیټي بیې وړاندې کوي ورکول کیږي.
د يادولو وړ ده چې د دغو پروژو ټولیزه بیه 23’354’905.91 میلیون امریکایي ډالر کیږي چې د نړیوال بانک لخوا ورکول کیږي.

په درنښت


پته:
محمد جان خان واټ
کابل- افغانستان
دتلیفون شمیره 0202104129
ويب پاڼه: www.mcit.gov.af

Address:
Mohammad Jan Khan Watt
Kabul – Afghanistan
0202104129
Web Site:

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت
د مقام د دفتر ریاست
د اطلاعات عامه عمومی مدیریت


Address: پته:
Mohammad Jan Khan Watt محمد جان خان واټ
Kabul – Afghanistan کابل- افغانستان
0202104129 دټلیفون شمیره 0202104129 ویب پاڼه:
Web Site: www.mcit.gov.af